د افغانستان اسلامي امارت
د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست
د اطلاعاتو آمريت

اونيزه راستنيدنه عودت هفته نامه

۸۸ یمه گنه، ۱۴۰۴ مرغومي:لومړی مخ/ شماره ۸۸ جدی ۱۴۰۴:صفحه




## په مهاجرينو چارو وزارت کې د اداري پروسې د اسانولو يو ورځنى ورکشاپ تر سره شو

د اداري پروسې د اسانولو دغه يو ورځنى ورکشاپ د ياد وزارت د مالي او اداري معين، مرکزي رييسانو، د بېلابېلو برخو امرانو او مديرانو په شتون کې تر سره شو.

په پيل کې مالي او اداري معين شيخ کليم الرحمن فاني د دغې برنامې پر ارزښت خبرې وکړې او ويې ويل: اداري پروسې بايد اسانه شي، تر څو ستونزې کمې شي، مراجعين خپلې موخې ته ورسېږي او بايد له هغوى سره غوره چلند وشي.

نوموړي زياته کړه، چې د اداري پروسې د اسانولو له امله د اداري فساد مخنيوى کېږي او چارې په پوره روڼتيا تر سره کېږي.

وروسته د پلان او پاليسي رييس مولوي محمود الحق احدي د اسلام مبين دين له نظره د نننۍ ورکشاپ په اړه خبرې وکړې او ويې ويل: هر مسوول بايد غوره تدبير ولري، هره اداره مکلفه ده، چې کارونه له اسلامي اصولو سره سم اسانه کړي، په ځانگړې توگه د مهاجرينو چارو وزارت، چې له بېوزلو مهاجرينو سره سروکار لري.

هغه وويل: د کارونو اسانه کول بايد د ديني اصولو پر بنسټ وي، له بيت المال سره احتياط وشي. اداري واک يو مسووليت او په هغه کې لټي کول خيانت دی. د کارونو په اسانه کولو کې عدالت او نصاف شته، له مراجعينو سره دې له توپيره پرته چلن وشي، هغوى ته دې ښه خدمتونه وړاندې شي، تر څو په اداري د خلکو باور نور هم زيات شي.

همدأرنگه د پلان او پاليسي رياست د پلان امر حکمت الله رحيمي په يو پرزينټېشن کې د پروسې اسانولو د گټو او نورو اړوندو مهمو موضوعاتو په اړه معلومات وړاندې کړل او د گډونوالو پوښتنو ته يې ځوابونه وويل.





## مهاجرينو وزارت کې د همکارۍ يو هوکړه ليک لاسليک شو

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت او د لوړې پر وړاندې د نړۍوالو مرستو موسسې (WHH) تر منځ د ۸۴۹ زره ٦۴۵ امريکايي ډالرو پر ارزښت د همکارۍ يو هوکړه‌ليک لاسليک شو.

د هوکړه‌ليک له مخې به دغه پيسې کابل او بلخ ولايتونو کې ۲ زره ۷۸ راستنو شويو کورنيو او کوربه ټولنو ته د نغدي مرستو وېش او څښاک اوبو په برخه کې په لگښت رسوي.



## ده ها باب خيمه، کمپل و ترپال در کمپ موقت مهاجرين سرخکان ولايت لغمان مساعدت شد

به اساس گزارش رياست امور مهاجرين و عودت کننده گان ولايت لغمان، ۴۰ باب خيمه، ۵۰ تخته کمپل و ۱۰۰ دانه ترپال در کمپ موقت سرخکان، با حضور رييسان مهاجرين، اقتصاد، مبارزه با حوادث طبيعی، صنعت و تجارت و احيا وانکشاف دهات آن ولايت، مساعدت شد.

کمک متذکره از طرف کميته رسيده گی به مشکلات کميسيون عالی حل مشکلات مهاجرين در آن ولايت ميباشد که با توجه به مشکلات و نيازهای فعلی مهاجرين برگشت کننده ارائه شده است.

مهاجرين ساکن با قدردانی ازآن کمک، گفتند: اين کمک ها در هوای سرد زمستان برای آنها بسيار ارزشمند است آنان همچنين خواهان کمک های بيشتری خيمه، لوازم زمستانی، غذايی و خدمات بهداشتی شده تا بتوانند روزهای سرد زمستان را با آرامش نسبی سپری کنند.



## رييس دفتر مقام وزارت امور مهاجرين با رييس اداره هلال احمر کشور قطر ديدار کرد

محترم مولوی سعيد احمد بنوری، رييس دفتر مقام وزارت امور مهاجرين و عودت کننده گان با حسين احمد بوتانی،رييس اداره هلال احمر کشور قطر برای افغانستان و هيات همراهش ديدار و گفتگو نمود.

در اين ديدار که مسئول موسسه تعليمی و خيريه افغان نيز حضور داشت محور صحبت ها به منظور بررسی پيشرفت کار و هما هنگی امور مرتبط به پروژه اعمار ۱۰۰ باب منزل برای مهاجرين برگشت کننده در شهرک مهاجرين رباط ولايت پکتيا، بود.

محترم بنوری گفت: بسياری از هموطنان در چند دهه جنگ از اثر تجاوز بيگانگان به کشور های بيرونی مهاجر شده بودند که خوشبختانه با پيروزی دو باره امارت اسلامی امنيت و رفاه سرتاسری در کشور تامين شده که شماری زيادی از آنان دو باره به ميهن برگشت نمودند.

هدف، کار و مسووليت ما برای مهاجرين برگشت کننده حمايت از آنان در بخش های مختلف بوده تا مشکلات آنان حل و زندگی را در فضای بهتر سپری نمايند.

محترم بنوری با قدردانی از کمک های اداره هلال احمر قطر برای مهاجرين در کشور خواهان تداوم آن شده تاکيد بر تسريع و اتمام کار ساخت ۱۰۰ باب منزل برای برگشت کننده گان در پکتيا کرد.

رييس اداره هلال احمر کشور قطر با خرسندی از اين ديدار و تشکری از هماهنگی خوب اين وزارت به همکاری خويش بطور مداوم در حل مشکلات مهاجرين اطمينان داد.

وی از پيشرفت فيصدی بيشتر کار در ساخت خانه ها در شهرک مهاجرين پکتيا معلومات داده و از اعمار ۲۰ باب خانه ديگر نيز برای برگشت کننده گان در آن ولايت خبر داد.

# په میدان وردگو کې راستنو شویو کورنیو ته د ځمکې وېش پیل شو

د میدان وردگو د مهاجرینو چارو ریاست د ځمکې وېش ولایتي کمېټې په همکارۍ ۷۵ راستنو شویو کورنیو ته د ځمکې وېش پیل کړ.

د دغه کار موخه د راستنو شویو لپاره د دایمي استوگن ځایونو برابرول او د هغوی د سرپناه ستونزې حلول و.

د یاد ولایت د مهاجرینو چارو رییس مولوي عبدالرحمن هاشمي د ځمکې وېش د ارزونې او څارنې په موخه د ځمکې وېش ولایتي کمېټې په ناسته کې گډون کړی و او د ښه نظم، شفافیت او د دغې لړۍ د چټکتیا په برخه کې یې لازمي لار ښوونې وکړې او ټینگار یې وکړ، چې د ځمکې وېش باید له اصولو سره سم تر سره او په عادلانه ډول هره کورنۍ ترې برخمنه شي.

د کمېټې مسوولینو د ځمکې له وېش څخه ډاډ ورکړ او ویې ویل، چې د مهاجرینو لپاره ټاکل شوې سیمه له ښار څخه په مناسبه فاصله کې ده او اړوندې اداري هڅه کوي، چې دغه سیمه د امکان تر حده په منظم پلان، ښاري اصولو او بنسټیزو خدمتونو سمباله کړي.

د مهاجرینو چارو ریاست مسوولینو ډاډ څرگند کړ، چې د ځمکې وېش به له هر ډول تبعیض څخه پرته په پوره شفافیت او دقیقې څارنې سره تر سره شي.

راستنو شویو کورنیو له اسلامي امارت او اړوندو ادارو څخه د دایمي سرپناوو جوړولو له امله مننه وکړه.



## نزدیک به ۱۰۰ تن مهاجر پس از رهایی از زندان برگشت نمودند

در هفته روان، ۹۲ تن از افغان های مهاجر محبوس از زندان های کشور پاکستان رها و پس از آزادی به کشور برگشت نمودند.

به اساس گزارش آمریت انتقالات مهاجرین ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت قندهار در سپین بولدک افراد یاد شده مدت یک روز الی ۲ ماه را دربند بودند که پس از ثبت درآن آمریت و دریافت مساعدت های بشری به محلات اصلی شان انتقال شدند.

## په څلورو ولایتونو کې له نږدې ۲ زره کورنیو سره مرسته وشوه

روانه اونۍ د همکارو بنسټونو له لوري په دایکندي، بادغیس، بغلان او میدان وردگو ولایتونو کې له یو زر۹۳۳ بېځایه شویو، راستنو شویو، زیانمنو کورنیو او کوربه ټولنو سره مرسته وشوه.

د یادو ولایتونو د راپورونو له مخې، دایکندي کې ۳۱ کورنیو سره ۹۵۸ زره ۸۳۰ افغانۍ، بادغیس کې له ۳۰۲ کورنیو سره ۷ میلیونه ۹۸۵ زره ۸۲۸ افغانۍ، بغلان کې ۵۰۰ کورنیو سره درې درې کمپلې او یوه یوه د ژمنیو کالیو بستې، میدان وردگو کې یو زرو ۱۰۰ کورنیو سره ۱۳ قلمه خوراکي او غیرې خوراکي توکو مرسته وشوه.

همدارنگه باغیس کې د همکارو بنسټونو له لوري ۵۰ تنو مېرمنو سره ۹۰ زره افغانۍ مرسته وشوه.

